# دوی به له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه لس آیتونه زده کړل، نو تر هغه پورې به یې لس نور آیتونه ترې نه اخیستل تر څو به یې چې په هغوی علم او عمل نه و زده کړی، نو فرمایي :

له ابو عبدالرحمن السلمي رحمه الله څخه روایت دی چې فرمایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه صحابه کرامو چې مونږ ته به یې قرآن رازده کاوه ویل یې چې دوی به له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه لس آیتونه زده کړل، نو تر هغه پورې به یې لس نور آیتونه ترې نه اخیستل تر څو به یې چې په هغوی علم او عمل نه و زده کړی، نو فرمایي : ،چې علم او عمل دواړه مو زده کړل.
[حسن] [احمد روایت کړی دی]

صحابه کرامو رضی الله عنهم به له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د قرآنکریم لس آیتونه زده کول او تر هغه به یې نور آیتونه ترې نه اخیستل تر څو به یې چې په هغوی کې ټول علم نه و زده کړی او عمل به یې پرې نه و کړې، نو علم او عمل دواړه یې سره یو ځای زده کړل.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee